# د سياسي ګوندونو، خپلواکو نوماندانو، پر ټاکنو د څارونکو بنسټونو او خبري رسنيو ته د باورليکونو د ورکړې لايحه

**اساس:**

دغه لايحه د ټاکنو د خپلواک کميسيون (له دې وروسته کميسيون) له خوا د ټاکنو د قانون د ۶۶ مې مادې د صلاحيت پر بنسټ، تصويب شوه.

**موخه:**

دا لايحه سياسي ګوندونو، خپلواکو نوماندانو، پر ټاکنو څارونکو بنسټونو او خبري رسنيو ته په ولسمشرۍ او د ولايتي شوراګانو ټاکنو کې د باورليکونو د ورکړې اړونده چاري تنظيموي:

**د باورليک ورکړه**

**لومړۍ ماده:**

۱- د ټاکنو خپلواک کميسيون د ټاکنو د بهير له پيل څخه د مخه سياسي ګوندونو، خپلواکو نوماندانو، پرټاکنو باندې څارونکو/کتونکو بنسټونو او خبري رسنيو ته وخت ورکوي چې د باورليکونو د ترلاسه کولو په موخه خپل ليکلي غوښتنليکونه، کميسيون ته وسپاري.

۲- سياسي ګوندونه، خپلواک نوماندان ،پر ټاکنو باندې څارونکي بنسټونه او خبري رسنۍ دې خپل ليکلي غوښتنليکونه د هغو مالوماتو په شمول چې په اړوند کړندود کې يې وړاندوينه شوې ده دباورليکونو د ترلاسه کولو په موخه کميسيون ته وړاندې کړي.

**استازي**

**دويمه ماده:**

سياسي ګوندونه، خپلواک نوماندان، پر ټاکنو څارونکي بنسټونه او خبري رسنۍ چې د دې لايحې د دويمې مادې د حکم په پام کې نيولو سره باورليک تر لاسه کوي، بايد د هغو کسانو په اړه چې د ټاکنو د پروسې د څارنې/کتنې په ترڅ کې د دوی استازيتوب کوي، لاندې مالومات ورکړي:

الف). نوم، د پلارنوم، پته، د تذکرې يا پاسپورټ او د ګرځنده ټيلیفون لمبر،

ب). د اظهارنامې لاسليک کول چې پربنسټ يې سياسي ګوند، خپلواک نوماند، پر ټاکنو څارونکي بنسټونه او خبري رسنۍ تأييدوي چې استازي يې ۱۸ کلن دي، د هيڅ يوه آمنيتي ارګان او د ناقانونه وسله والو ډلو غړيتوب نه لري او په ټاکنو کې يې د نوماند په توګه نوم نه دی ثبت شوی.

ج). د اظهارنامې لاسليک کول چې پربنسټ يې سياسي ګوند، خپلواک نوماند، پر ټاکنو څارونکي بنسټونه او خبري رسنۍ تأييدوي چې د دوی استازو د چلند اصول مطالعه کړي دي او په رعايت يې مکلف دي.

**پېژند پاڼه (کارټ)**

**دريمه ماده:**

۱. د باورليک د ورکړې څخه وروسته د ۱۴ ورځو په ترڅ کې، کميسيون د استازو، کتونکو او رپوټ جوړونکو (ريپورټرانو) اړوند پېژند پاڼې يا کارتونه چمتو کوي او نوماندانو او نورو اړوندو بنسټونو ته به يې سپاري.

۲. ويشل شوې پېژند پاڼې د دوی د پای د نېټې په پام کې نيولو سره، کېدای شي چې د يوې يا زياتو ټاکنيزو پروسو لپاره د باور وړ وي.

۳. باید پېژند پاڼه د عکس لرونکي وي او د توظیف شوی مرجع له خوا ټاپه شوی وي.

۴. پېژند پاڼه د انتقال وړ نه ده.

**د باورلیک ابطال**

**څلورمه ماده:**

په لاندې مواردو کې سیاسي ګوندونو، خپلواکو نوماندانو، پر ټاکنو باندې څارونکو بنسټونو او خبري رسنیو ته ورکړل شوې باورلیکونه د کمیسیون له خوا باطلیږي:

۱. په هغه صورت کې چې د چلند اصول په پام کې و نه نیسي او یا د ټاکنو د قانون او د کمیسیون د مصوباتو په اړه تېروتنه وکړي او پدې اړه شواهد شتون ولري.

۲. دټاکنیزو شکایتونو دکمیسیون دپرېکړې شتون چې پربنسټ یې باورلیکونه باطل شوي وي.

۳. دسیاسي ګوند، خپلواک نوماند، پر ټاکنو د څارونکي بنسټ او د خبري رسنۍ غوښتنه چې د کمیسیون څخه یې د اړوند باورلیک د ابطال غوښتنه کړي وي.

۴. د سیاسي ګوند او ډله ییزې رسنۍ د انحلال او د نوماندۍ څخه د نوماند د لاس اخیستنې په صورت کې.

**د پېژند پاڼې ابطال**

**پنځمه ماده:**

۱. کمیسیون په لاندې مواردو کې ورکړل شوې (صادرې شوې) پېژند پاڼې باطلې اعلانوي:

الف. په هغه صورت کې چې کوم سیاسي ګوند، خپلواک نوماند، پر ټاکنو څارونکي بنسټ او خبري رسنۍ د خپل معرفي شوي استازي د پېژند پاڼې د ابطال غوښتنه وکړي.

ب. د شواهدو د شتون په صورت کې چې پربنسټ یې استازي، کتونکي یا ریپورټر د اړوند چلند د اصولو سره سم رفتار نه وي کړې او یا هم د کومې ټاکنیزې تېروتنې مرتکب شوی وي.

ج. د کوم سیاسي ګوند، خپلواک نوماند، پر ټاکنو د څارونکي بنسټ او خبري رسنۍ چې دغه کس یې استازیتوب کوي، د باطل شوي باورلیک په صورت کې.

۲. په هغه صورت کې چې د کوم سیاسي ګوند، خپلواک نوماند، پر ټاکنو د څارونکي بنسټ یا خبري رسنۍ یا استازو باورلیکونه یا پېژند پاڼې باطلې اعلان شي، نو کمیسیون به په دې اړه خپل دلایل د هغوی تر غوږونو رسوي.

۳. د نوم ثبتوني، رأی اچوني او د رأیو د شمېرنې د مرکز مسؤول یا د ټاکنو هر بل کارکوونکي چې د کمیسیون له خوا ورته صلاحیت ورکړل شوی وي، په لاندېنیو مواردو کې کولای شي چې د پېژند پاڼو د مصادره کولو په اړه ګام پورته کړي او د موضوع په اړه، زر تر زره کمیسیون ته خبر ورکړي:

الف. د کمیسیون له خوا د لارښوونې په صورت کې،

ب. د شواهدو د شتون په صورت کې چې استازي د اړوند چلند د اصولو په خلاف کار کړی وي.

ج. په هغه صورت کې چې په ټاکنیزه تېروتنه مرتکب شي.

**د استازو، کتونکو او رپوټ جوړوونکو (ریپورټرانو) حضور**

**شپږمه ماده:**

۱. هغه استازو، کتونکو او رېپورټرانو ته چي د کميسيون څخه يي باورليکونه ترلاسه کړي وي او خپل پېژند پاڼي يي په داسي ډول له خپلو ځانونو سره ساتلي وي چي پکښي موجود مالومات د لېدلو وړ وي، ور ته به اجازه ورکړل شي چي د څارني، کتني او پرې د رپوټ جوړولو په موخه د ټاکنو په پروسه کي ګډون وکړي.

۲. د ټاکنو په ترڅ کي باورليک لرونکي سياسي ګوندونه او نوماندان بايد په اړونده ټاکنيزه حوزه کي د رأی اچوني د مرکزونو د شمېر په تناسب سره خپل استازي معرفي کړي.

۳. سياسي ګوند يا نوماند چي غواړي کوم مرکزونه د خپل څار تر پوښښ لاندي راولي، نو بايد کميسيون ته يي په اړه خبر ورکړي.

۴. په بېلا بېلو ټاکنيزو پړاوونو کي د استازو، کتونکو او رېپورټرانو حضور په اړوندو لوايحو، کړنلارو او د چلند په اصولو کي تنظيمېږي.

۵. د نوم ثبتوني او رأی اچوني د محلونو او دغه راز د رأی شمېرني د مرکزونو مسؤولين کولای شي چي د امنيتي معذرتونو له امله او يا په دې خاطر چي د نوم ثبتوني او رأی اچوني په محلونو او همدارنګه د رأيو شمېرني په مرکزونو کي د ازدحام مخه ونيول شي د استازو، کتونکو او رېپورټرانو د حضور په اړه ځيني زماني محدوديتونه وضع کړي.

**<u>د کميسيون عدم مسؤوليت</u>**

**اوومه ماده:**

کميسيون د استازو، کتونکو او رېپورټرانو د مالي او ځاني امنيت د تأمينولو، د ټرانسپورټي وسايطو، استوګنځايونو او اعاشي د چمتو کولو او يا دې ته ورته د نورو آسانتياوو د برابرولو په اړه، هېڅ ډول مسؤوليت نه لري.

**<u>انفاذ</u>**

**اتمه ماده:**

دغه لايحه د تصويب له نيټي څخه وروسته نافذه او خپرېږي.